بسم الله الرحمن الرحيم

جریده
# میـــزان

ستره محکمه

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۱۴ وږی ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۲ ربيع الأول ۱۴۴۸ هـ ق | ۵ سپتمبر ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۴۵)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتـره اسـلاف لـه دې نـه دا استنباط کـوي ، کـه پـه کائناتـو کـې د حق او عـدل ساتنه ملحوظه نـه وای نـو د نـړی، نـړی والـو او ټولـو کائناتـو دا ټـول انتظام، ساتنه او انضبـاط سـره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې رهبرۍ د وزارتونو او خپلواکو ادارو د نشراتو رئيسانو، وياندويانو، ليکوالانو، د رسنيو مسئولينو، د حقوقي او سياسي چارو شنونکو سره د همغږۍ فرهنګي غونډه وکړه

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله (سعيد) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې يو شمېر لوړ رتبه مسئولينو، د سه‌شنبې په ورځ (۱۱/ ربيع‌الأول/ ۱۴۴۸هـ ق) د وزارتونو د نشراتو له رئيسانو، وياندويانو، ليکوالانو، د رسنيو له مسئولينو او د حقوقي او سياسي چارو له شنونکو سره د همغږۍ فرهنګي ناسته وکړه.

ياده ناسته، چې د سترې محکمې اداري مرستيال، د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست رئيس، د مرکزي رياستونو او ديوانونو رئيسانو او سلګونو مېلمنو په ګډون جوړه شوې وه، د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت سره پيل شوه.

ورپسې، د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله (سعيد) صاحب ګډونوالو ته د ښه راغلاست او پيل وينا وکړه او ترڅنګ وويل، دا نظام زموږ او ستاسو ټولو ګډ کور دی او دلته حاضر ټول کسان؛ که د وزارتونو او خپلواکو ادارو د نشراتو رئيسان، وياندويان، ليکوالان، د رسنيو مسئولين، د حقوقي او سياسي چارو شنونکي او نور ګډونوال دي، د دغه کور د غړو حيثيت لري.

محترم شيخ صاحب د ناستې عمده موخه د سترې محکمې، امارتي ادارو، ليکوالانو، د رسنيو مسئولينو او نورو هېوادوالو ترمنځ د همغږۍ پياوړتيا وبلله او زياته يې کړه، موږ ځکه تاسو دې ناستې ته دعوت کړي ياست، چې له تاسو سره د محاکمو د لاسته راوړنو د شريکولو ترڅنګ، د محاکمو د چارو په اړه ستاسو نظرونه، پوښتنې او وړانديزونه واورو او هڅه وکړو، چې د اسلامي نظام د دغه مهم ارکان چارې لا شفافې او خلکو ته غوره قضائي خدمتونه وړاندې شي.

دغه راز د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست رئيس محترم شيخ محمد شريف (حقاني) د ناستې ګډونوالو ته د قضاء د مسلک او دغه نظام د اساسي مسئوليتونو په اړه تفصيلي وينا وکړه وويل، ستره محکمه د اسلامي نظام له مهمو ارکانونو څخه ده، چې عمده مسئوليت يې د عدالت تأمين او د شرعي احکامو په رڼا کې د مراجعينو د دوسيو حل او فصل کول دی.

محترم شيخ حقاني صاحب زياته کړه، د افغانستان اسلامي امارت محاکم خپلې ټولې پرېکړې د شرعي احکامو او اسلامي امارت د نافذه اصولو په رڼا کې صادروي، هڅه کوي چې د مراجعينو دوسيې په ټاکلي وخت حل او فصل کړي.

نوموړي په محاکمو کې حق حقدار ته د سپارلو په برخه کې حاضرينو ته پوره ډاډ ورکړ وويل، د اسلامي امارت محاکم د شرعي احکامو مطابق د عدالت د تأمين لپاره درې مرحلې (ابتدائيه، مرافعه او تميز) لري، د دغو درې مراحلو موخه داده، چې که خدای مه کړه ابتدائيه محکمه کې د فيصلې پر مهال اشتباه کېږي، د دوسيې جانب کولای شي مرافعه طلبي وکړي، که مرافعه مرحله کې هم ګمان کوي، چې حق يې ضايع شوی، تميز محکمې ته مراجعه او عريضه کولای شي، تر څو يې تميز محکمه دوسيه په غور او دقت وګوري؛ په دې سربېره د محکمې هر مراجعه کوونکي ته د تجديد نظر غوښتنې حق هم ورکړل شوی، يعنې د اسلامي امارت د محاکمو سيستم داسې جوړ دی، چې په هېڅ صورت په کې د چا د حق د ضايع کېدو خطر نشته.

د غونډې په دوام د اسلامي امارت مرستيال وياند محترم ملا حمدالله (فطرت) په خبرو کې د داسې غونډو جوړېدل ګټور ياد کړل زياته يې کړه، په اسلامي نظام کې محاکم مهم رکن او اسلامي نظام په شرعي محاکمو پېژندل کېږي.

په دې سربېره د سترې محکمې د جزا ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب د اسلامي امارت د محاکمو د کاري بهير، د ځينو هېوادوالو انديښنو او ابهاماتو په اړه د ناستې ګډونوالو ته تفصيلي وينا وکړه وويل، د اسلامي امارت محاکم د حدودو او تعزيراتو په ګډون د شريعت مطهره د هر حکم تطبيق ته پوره ژمن دي؛ خو د حدودو او قصاص تطبيق خاص شرايط لري، چې له تطبيق مخکې بايد پوره شي.

نوموړي د يو شمېر هغه هېوادوالو د انديښنو په اړه، چې ادعا کوي، ګواکې په محاکمو کې يې کارونه ځنډېږي په ځواب کې وويل، په محاکمو کې د ځنډ يو عمده لامل خپله د دوسيو جانبين دي؛ دوی اکثريت وخت محکمې ته لازم او ضروري اسناد، لکه: صورت دعوی، دفع دعوی، شاهدان، ورکړل شوي استعلامونه او نور په ټاکلي وخت محکمې ته نشي سپارلی، چې له امله يې د دوی دوسيې ځنډېږي.

محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب حاضرينو ته ډاډ ورکړ، چې د دوسيو د ژر او اصولي حل او فصل په موخه سترې محکمې خپل تشکيل زيات کړی او په دې برخه کې لا نورې هڅې هم روانې دي، د بېلګې په ډول کابل ولايت کې مخکې څلور ابتدائيه ښاري محاکم موجود وو، چې اوس يې تازه شمېر يوولسو ابتدائيه محاکمو ته ډېر شوی دی.

دغه راز د رسنيو د مسئولينو په استازيتوب د طلوع نيوز رئيس محترم فريدالله (محمدي) خبرې وکړې، د دې ناستې جوړېدل يې ګټور او اغېزمن وبلل، زياته يې کړه، دغه ډول ناستې ډېرې ګټورې دي، ځکه د افغانستان ټول خلک علماء نه دي او نه د قضاء او افتاء په برخه کې پوره معلومات لري.

نوموړي د محاکمو له چارو رضايت څرګند کړ وويل، زه په محاکمو کې د چارو د شفافيت او عدالت د تأمين عيني شاهد يم.

ياده ناسته د ګډونوالو د نظرونو، پوښتنو او وړانديزونو تر اورېدو او هغه ته له ځواب ورکولو وروسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.



**د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**
**د عمر فاروق ﵁ په دوره کې قضاء:**
**شلمه برخه:**

ابن عابدين په رد المحتار کې وايي: که مدعي له قاضي څخه د بيني د حاضرولو لپاره وخت وغواړي، قاضي به وخت ورکوي، بيا يې چې بينه حاضره کړه او دلته مدعی عليه د دفع کولو لپاره وخت وغوښت، هغه ته به هم وخت ورکوي او په حکم کې به بېړه نه کوي. هو، دا هغه وخت چې د دفع په تړاو پوښتنه تري وکړي او پوه شي، چې دفع يې صحيح ده، که فاسده وه بيا د وخت نه ورکوي. همداسې په قاضي خان کې هم راغلي.

لازمه ده، چې مهلت او دا وخت ورکول په دومره کچه وي، چې د دواړو اړخونو مراعات پکښې شوی وي؛ ځکه بېړه کول، د هغه لپاره ضرر دی، چې د دفع غوښتنه کوي او ځنډول يې بيا د هغه لپاره تاوان دی، چې حق يې ثابت کړی او غوره له کړنو هغه دي، چې تعادل په پام کې ونيول شي.

اخذليک: د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۱ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحيم راشد

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د باميان ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د قضائي پلټنې د عمومي ریاست یو مؤظف پلاوي د محترم مولوي رحمان الدین (ایشان) په مشرۍ، چې مولوي عبدالولي (مصباح) او مولوي صبغت الله (ناظم) يې غړيتوب درلود، د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۲۲مه نېټه باميان ولایت ته د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه سفر وکړ.

د لیدنې په پیل کې یاد هیئت د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل؛ ورپسې يې د بندیانو د ستونزو د څېړلو په موخه د باميان ولایت له مرکزي زندان او توقیف خونې څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس او توقیف خونې اړوند نارینه‌وو او ښځینه‌وو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او اړتیاوې يې له ځان سره یادداشت او بیا يې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

هیئت د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت (۷) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، د حقوقو مدیریتونو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، د اسنادو، مخزن، وثایقو او حقوقو آمریتونو او نظامي محکمې څخه جلا جلا لیدنه وکړه.

نوموړي هیئت د پلټنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هراړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې يې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

دغه راز یاد هیئت د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او نیمګړتیاوې له ځان سره یادداشت او په پای کې يې د ستونزو د حل، د خنډونو له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د باميان ولایت د مرافعه محکمې له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او اړوند ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

د پلټنې هیئت د خپل سفر په جریان کې د یاد ولایت د ځینو ولسوالیو له ولسوالانو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او ځینو اړونده ستونزو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

د پلټنې هیئت یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې په ۴مه نېټه پای ته ورسېد.

## د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند مجاهدينو لپاره د معسکر د نهمې دورې افتتاحيه ناسته وشوه

د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست اړوند د حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) د تعليمي مرکز قوماندانۍ د نظامي زده کړو د نهمې دورې افتتاحيه ناسته، د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربيع الأول مياشتې په ۹مه نېټه د ياد رياست په انګړ کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې، چې د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند نظامي محاکمو د امنيتي او اجرائيوي قطعاتو عمومي قوماندان حافظ حکمت الله (آغا ذهين)، د ياد رياست د دفتر عمومي مدير الحاج مولوي خان محمد (مستغفر)، د حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) د تعليمي مرکز قوماندان مولوي محمد ابراهيم (برهان) او نورو مسؤولينو او منسوبينو ګډون درلود.

د غونډې ګډونوالو ته د ياد رياست د دعوت او ارشاد عمومي مدير مولوي سيدآغا (خاکسار) د اعداد د ارزښت په اړه وينا وکړه وويل، اعداد د اسلامي نظام د بقاء اصل دی، ځکه خو مومنان د الله تعالی له لوري د اعداد په کولو مامور شوي دي او د دغه الهي امر په ترسره کولو کې الله تعالی لوی حکمتونه نغښتي دي، اعداد د مجاهدينو د فزيکي وړتياوو د لوړولو ترڅنګ د مجاهدينو عقيدې لا راسخې او قوي کوي.

نوموړي زياته کړه، دا چې الله تعالی افغانانو ته له ډېرو قربانيو او مشکلاتو زغملو وروسته دغه اسلامي نظام ور په برخه کړ، نو د دغه اسلامي نظام د بقاء او لا مستحکم کېدلو لپاره به له هرې ممکنې لارې کوښښ کوو چې اعداد او تدريب وکړو، ترڅو د نظام په وړاندې د هر کېدونکي بغاوت ملا ماته او دغه اسلامي نظام ته د خدمت جوګه شو.

د يادونې وړ ده، چې په ياده دوره کې به (۱۰۵) مجاهدينو ته نظامي او عقيدوي روزنه ورکړل شي.

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس د يوه پلاوي په مشرۍ پروان ولايت ته رسمي سفر وکړ

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس، محترم مفتي عتيق الله (درويش)، د مفتي فضل الرحمن (قاسمي) او مفتي محمد (حَصين) په ملتيا، د ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربيع الأول مياشتې په ۱۲مه نېټه، د سترې محکمې د رئيس او قاضي‌القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب، د ځانګړې هدايت پر اساس، د ځلورو جزائي دوسيو په اړه د وروستيو معلوماتو بشپړولو په موخه پروان ولايت ته رسمي سفر وکړ.

د سترې محکمې د جزا دېوان پلاوي د سفر په ترڅ کې د ياد ولايت د مرافعه محکمې له رئيس او قضائي منسوبينو سره وکتل، د جزائي قضيو د حل او فصل او د قضائي اجراآتو د لا ښه‌والي په اړه يې ورسره مفصلې خبرې او بحثونه وکړل.

همدارنګه، د جزا دېوان عمومي رئيس او ورسره مل پلاوي د جزائي موضوعاتو اړوند (۴) دوسيې وڅېړلې، د دوسيو له طرفينو سره يې ليدنې وکړې او د قضيو د بشپړې ارزونې په موخه يې لازمې څېړنې او تحقيقات ترسره کړل.

د پروان ولايت مرافعه محکمې رئيس او نورو قضائي منسوبينو او دغه راز د دوسيو طرفينو د سترې محکمې د جزا دېوان د عمومي رئيس او ورسره مل پلاوي د سفر هرکلی وکړ او څرګنده يې کړه، چې دغه ډول رسمي سفرونه د قضائي چارو د لا ښه تنظيم، د محاکمو د ورځنيو اجراآتو د پياوړتيا په برخو کې اغېزناک او ګټور رول لري.

د يادونې وړ ده، چې د سترې محکمې د دغه پلاوي له لاسته راوړنو ډک سفر د ربيع الأول مياشتې په ۱۳مه نېټه پای ته ورسېد.

## د کندهار ولايت ښاري ابتدائيه محکمې په يوه مياشت کې (۷۳۳) دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د کندهار ولايت ښاري ابتدائيه محکمې په يوه مياشت کې (له ۱/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۷۳۳) دوسيو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ښاري ابتدائيه محکمې په يوه مياشت کې (۳۳۴) حقوقي دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۲۴۰) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۹۴) دوسيې فيصله شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ښاري ابتدائيه محکمې په يوه مياشت کې (۳۹۹) جزائي دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۱۶۰) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۱۷۹) دوسيې فيصله شوې دي.

## محاکم ولایت بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۹۶) دوسیه، به تعداد (۲۴۹) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت بادغیس طی یک ماه (از ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۷۹۶) دوسیه، به تعداد (۲۴۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۶۷۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۳) دوسیه فیصله شده، (۶۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۲۱۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۲۴۹) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت نیمروز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۴۰) دوسیه، به تعداد (۹۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، آمریت وثایق، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت نیمروز طی دو هفته (از ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۴۰) دوسیه، به تعداد (۹۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت نیمروز به (۱۰۷) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۷۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده و (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت نیمروز به (۱۳۳) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۸۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده و (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت نیمروز به تعداد (۹۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت فاریاب طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۲۹) دوسیه، به تعداد (۷۵۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت فاریاب طی یک ماه (از ۱۴۴۸/۲/۱هـ ق الی ۱۴۴۸/۲/۳۰هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۸۲۹) دوسیه، به تعداد (۷۵۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۶۱۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۲۲) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۸۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۲) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۷۵۹) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۶۲) دوسیه، به تعداد (۲۲۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت کندز طی دو هفته (از ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۴۶۲) دوسیه، به تعداد (۲۲۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۷) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۱) دوسیه فیصله شده، (۲۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۶۶) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۵) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کندز به تعداد (۲۲۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د میدان وردگ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۳۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۹۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردگ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق څخه ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۳۳۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۹۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۸۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۰۶) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۴۴) دوسیې فیصله شوې، (۷۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۸۸) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۲) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۴۴) دوسیې فیصله شوې، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردگ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۹۸) بلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۱۱۶۳) دوسیه، به تعداد (۵۴۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت بغلان طی یک ماه (از ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۱۶۳) دوسیه، به تعداد (۵۲۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۷۲۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۰۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۶) دوسیه فیصله شده، (۹۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۶۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۷) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۵۴۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۶۵۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۳۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۲۴/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق څخه ۶/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق نېټې پورې (۶۵۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۳۷) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۹۳) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۰۵) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۷۶) دوسیې فیصله شوې، (۵۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۲۰) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۴) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۹۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۶۳۷) بلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۵۹) دوسیه، به تعداد (۵۳۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت بدخشان طی یک ماه (از ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۸۵۹) دوسیه، به تعداد (۵۳۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به (۶۸۱) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۴۳۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۶) دوسیه فیصله شده و (۱۰۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به (۱۷۸) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۴) دوسیه فیصله شده و (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۵۳۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۵۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۲۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د پکتیا زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۴۵۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۲۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۸۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳۳) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۷۷) دوسیې فیصله شوې، (۱۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۹۵) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۴) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۱۳۵) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۲۸) بلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د ننگرهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۹۷۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۱۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د ننگرهار ولایت مرافعه، وثایقو، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۹۷۱) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۶۱۹) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د ننگرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۴۵) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۲) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۸۶) دوسیې فیصله شوې، (۴۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننگرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۷۹) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۷) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۴۲۷) دوسیې فیصله شوې، (۳۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننگرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۱۳۰) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۶) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۳۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننگرهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۶۱۹) بلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د قضائي زده کړو عمومي ریاست لخوا جوړ شوی دوه میاشتنی قضائي روزنیز پروګرام پای ته ورسېد

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي ریاست لخوا په محاکمو کې تازه مقرربدونکو علماء کرامو ته جوړ شوی دوه میاشتنی روزنیز پروګرام د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۸/۳/۱۳هـ ق) نېټه پای ته ورسېد.

د دغه روزنیز پروګرام فراغت غونډه، چې د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله سعید صاحب، د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو رئیسانو او نورو مسئولینو په کې ګډون درلود، د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د قضائي زده کړو عمومي ریاست استاد او مدرس مفتي محمد صاحب د فراغت غونډې ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د دغه روزنیز علمي پروګرام په اړه معلومات وړاندې کړل وویل، په یاد دوه میاشتني پروګرام کې هغه (۲۲۶) علماء کرامو ته چې د سترې محکمې لخوا په اخېستل شوې تحریري ازموینه کې بریالي شوي وو، د مسلکي شیوخ کرامو او استادانو لخوا د قضاء او افتاء برخو کې نظري او عملي روزنه ورکړل شول.

دغه راز د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله سعید صاحب وینا وکړه وویل، محترمو فارغینو! تاسو له دغه روزنیز پروګرام څخه تر فراغت وروسته د عمل میدان ته وړاندې کېږئ، هیله ده په محاکمو کې د خدمت پر مهال له دغه مهارتونو او زده کړو څخه صحیح او سالمه استفاده وکړئ.

نوموړي فارغینو ته په خطاب کې وویل، تاسو باید حُسن نیت او اخلاص ولرئ؛ ځکه د اعمالو ښه والی او بدوالی په نیت پورې تړاو لري.

وروسته د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله درویش صاحب وینا وکړه وویل، ډېر د شکر ځای دی، چې د یو سوچه اسلامي نظام تر سیوري لاندې ژوند کوو، په کې مسئولین او حاکمان یوو؛ دا سپېڅلی نظام د ډېرو سترو قربانیو په نتیجه کې راغلی دی؛ لهذا له دغه نظام سره وفاداري پکار ده.

نوموړي زیاته کړه، تاسو له قضائي روزنیز پروګرام څخه فارغ شوی، اوس د یو لوی امتحان میدان ته وړاندې کېږئ، تاسو به عدالت تأمینوئ، د دغه مظلوم اولس بړغ به اورئ او ستونزې به یې حل کوئ.

په دې سربېره د روزنیز پروګرام یو تن فارغ مفتي محمد ابراهیم خبرې وکړې، د روزنیز پروګرام د ټولو ګډونوالو په استازیتوب یې د سترې محکمې له رهبرۍ څخه د دغه ګټور پروګرام د جوړېدو په خاطر مننه وکړه وویل، موږ ټول ژمنه کوو، چې په پوره ژمنتیا او اخلاص به د هېوادوالو خدمت کوو.

د فراغت یاده غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## با تلاش رئیس محکمه مرافعه ولایت بادغیس قضیه قتل حل و فصل گردید

با تلاش محترم الحاج شیخ عبدالخالق (امدادالحق)، رئیس محکمه مرافعه ولایت بادغیس، درگیری ناشی از اختلاف بر سر مالکیت یک قطعه زمین در مربوطات منطقه «نخچرستان» ولسوالی تگاب‌عالم، که میان دو قوم محلی رخ داده و در نتیجه آن سه تن به قتل رسیده بودند؛ به تاریخ ۱۴۴۸/۳/۱۱ هـ ق طی یک نشست حل و فصل گردید.

به منظور تأمین عدالت، حفظ وحدت اجتماعی و جلوگیری از طولانی شدن نزاع خانوادگی، جلسات متعدد با طرفین دعوی از قبل دایر، که با استفاده از اصول فقهی، شرعی و عرفی و تأکید بر ارزش‌های اسلامی در مورد صلح و آشتی رئیس محکمه مرافعه موفق شد، تا طرفین را به سمت مصالحه بکشاند، که در نتیجه بعد از تلاش‌های پیگیر طرفین دعوی به صورت کاملاً داوطلبانه و با رضایت قلبی، با همدیگر صلح شرعی و قانونی نموده و از تمام ادعاهای حقوقی و جزائی خویش صرف نظرکردند.

این مصالحه اجتماعی و نقش مؤثر علماء و محاکم در حل اختلافات است، که باعث تقویت اعتماد عامه به سیستم عدلی و قضائی، کاهش تنش‌های قومی، خانوادگی و ترویج فرهنگ صلح و آشتی در جامعه گردیده است.

## د کابل ولایت قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه

د کابل ولایت د قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو، د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب، په ۲۶ / ۲ / ۱۴۴۸هـ ق نېټه د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه.

یاده پېښه د قره‌باغ ولسوالۍ په بازار کې د یوې ترافیکي پېښې له امله رامنځته شوې وه؛ ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت سره وڅېړل شوه.

د ابتدائیه محکمې لخوا د حکم له صادرېدو مخکې دواړه لوري سولې او روغې جوړې ته وهڅول شول، چې د هغوی لخوا ومنل شوه.

د مقتول د کورنۍ له رضایت وروسته، د محکمې له لوري یوه رسمي غونډه جوړه شوه؛ چې په کې د دواړو لوریو قومي مشرانو او علماوو هم ګډون درلود، په غونډه کې د مقتول وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او دغه موضوع په رسمي ډول پای ته ورسېده.

## د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسئولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه


د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسئولینو په هڅو؛ د قومي مشرانو او مصلحینو په منځګړیتوب، په ۲۹/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق نېټه د قتل موضوع حل او فصل شوه.

یاده د قتل موضوع د مقر ولسوالۍ اړوند د (نویو خونو) په کلي رامنځته شوې وه؛ چې وروسته ابتدائیه محکمې ته راجع شوه.

د ابتدائیه محکمې له خوا یاده موضوع په غور او دقت وڅېړل شوه؛ وروسته د موضوع دواړه طرفونه سولې ته وهڅول شول او دوی هم ومنله.

دغه راز د قاتل کورنۍ مقتول ته بخښنه وکړه او موضوع یې رسمًا پای ته ورسېده.

احکام و فرامین قضائی
(۳)



## فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد حقوق زنان

شماره: (۸۳ج۱)
تاریخ: ۱۴٤۳/٤/۲۷ هـ.ق

**فرمان**

**عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی**

**در مورد حقوق زنان**

مقام رهبری امارت اسلامی به همه مسؤلین مربوطه، علمای کرام و بزرگان قومی هدایت می دهد که به خاطر تحقق حقوق آتی زنان، اقدامات جدی نمایند:

۱ ـ رضایت زنان بالغ در وقت نکاح ضروری می باشد (که نکاح باکُفو باشد و خطر فتنه و فساد نیز نباشد )، هیچ شخص نمی تواند که وی را به جبر و اکراه به نکاح کردن مجبور نماید.

۲ ـ زن مال نه ، بلکه انسان اصیل است ، هیچ شخص نمی تواند که وی را به کسی در بدل صلح ( بد ) بدهد.

۳ـ زن بیوه را پس از وفات شوهر که عدت شرعی وی سپری شود، نه برادر شوهر به خود و نه کس دیگر به زور نکاح کرده می تواند، زن بیوه در مورد نکاح و تعیین سرنوشت خود صاحب اختیار خود است ( که اصل کفو و جلوگیری از فتنه و فساد در نظر گرفته شده باشد).

٤ـ گرفتن مهر از شوهر جدید حق شرعی زن بیوه است.

٥ـ زن در اموال شوهر، اولاد، پدر و سایر اقارب حق میراث و سهم ثابت دارد. هیچ شخص نمی تواند با فرضیت با عصبیت ، وی را از حقش بی بهره نماید.

٦ـ اشخاصی که زنان متعدد دارند مکلف اند که حقوق همه آن ها را طبق حکم شرعی بدهند و میان آنها عدل نمایند.

ادارات و وزارت های ذیل به طور خاص در سهم خود اقدامات را انجام دهند:

ـ به وزارت ارشاد، حج و اوقاف حکم است که علماء و خطبای کرام را در مورد هدایات مربوط به حقوق زنان، تشویق نماید تا از طریق خطبه ها و مواعظه خویش مردم را بفهماند که ظلم با زنان و ندادن حقوق آنها سبب نارضایتی الله متعال و قهر و عذاب وی می گردد.

ـ وزارت اطلاعات و فرهنگ نیز از طریق وسایل خویش، مطالب مفید ترغیتی و ترهیبی را در مورد حقوق زنان به شکل تحریری و صوتی به گونه دوامدار به نشر بسپارد؛ صاحبان فن و استعداد را به تکثیر و اشاعة رساله های مفید تشویق نمایند، تا حد ممکن بعضی از رساله های کوتاه مهم را با استفاده از وسایل خویش چاپ – نماید تا توجه علمای کرام در مورد حقوق شرعی زنان جلب، آگاهی عام و جلوگیری از ظلم جاری آسان گردد.

ـ مقام عالی ستره محکمه به تمام محاکم هدایت صادر نماید تا عرایض مربوط به زنان به خصوص حقوق بیوه ها و ظلم بر آن ها را به شکل اصولی اخذ نموده و در مورد آن غفلت ننمایند تا در خصوص رهایی از ظلم و به دست آوردن حقوق شرعی خویش با مأیوسی مواجه نشوند .

ـ والیان و ولسوالان با وزارت های متذکره و ستره محکمه در زمینهٔ تطبیق فرمان، همکاری همه جانبه نمایند .

**و السلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوی هبة الله اخندزاده**

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳